بسم الله الرحمن الرحيم

# د بايډن کاميابي به امريکا له ماتې سره مخ کړي

## خبر

جوبايډن له ډېر انتظار او د ټرمپ له تشويش سره سره د امريکا ولسمشر اعلان شو. ټرمپ چيغې وهلې، چې بايډن په ټاکنو کې درغلي کړې ده. کله چې لوړ پوړو جمهوري غوښتونکو په واک کې د ټرمپ له پاتې کېدو لاس واخيست، نو بايډن ژمنه ورسره وکړه، چې زه د هغو کسانو ولسمشر يم چې يووالي ته کار کوي، نه نفاق ته. ايا د بايډن دغه خبره او د امريکا د حالت د ښه کېدو پيغام، دوی په کڼو غوږونو واورېد؟

## تبصره

بايډن به د خپلو پلويانو په کمپاينونو کې ويل؛ امريکا ته به پرمختګ ورکوو او د خپلو مخالفينو ګواښونه به د خپل دښمن په توګه له منځه وړو. دوی زموږ دښمنان نه دي، بلکې زموږ امريکايان دي نوموړي زياته کړه: «اوس هغه وخت دی چې د امريکا په حالت کې ښه والی  راشي.» همدارنګه بايدن يوه ورځ ضمانت ورکړ، چې د ټولو خلکو د باور ترلاسه کولو لپاره به په پوره هڅو سره کار کوم، څو د ټولو خلکو باور لاسته راوړم.

کله به چې د بايډن خبرې د ټرمپ پلويانو اورېدلې، نو فکر يې کاوه چې ټرمپ د امريکا لپاره خدمت نه شي کولی او د ټرمپ پر وړاندې به يې ناوړه ذهنيت پيداکاوه. کوويد-۱۹، د تور پوستو په پرتله د سپين پوستو د لوړوالي د توافق لاسليکول، د قانون ماتونې او داسې نورې ستونزې د دې لامل شوې، چې هغوی له ټرمپ څخه مخ واړوي. تقريبا ۵۰٪ جمهوري غوښتونکو په دغه قانون باور درلود، چې ټرمپ هسې يوه نمونه ده او ټول کارونه د ډېموکراتانو سياسيونو له خوا مخته بيول کېږي.

خو په جمهوري غوښتونکو پسې د رايې ورکوونکو پوره ملاتړ په دې خاطر وو، چې د ډموکراتانو له خوا د لېبرالي ارزښتونو پر وړاندې بايد پخواني مسيحي ارزښتونو ته پاملرنه وکړي. د امريکا په ټاکنو کې ۲۰٪ د انجيل پيروان برخه اخلي، چې ډېر مهم هم دي او د غربي هېوادونو په منځنيو برخو کې په حکومتونو کې مهم رول لري. څېړنو ښودل، چې سږ کال به ۷۵٪ د انجيل سپين پوستي پلويان ټرمپ ته رايه ورکوي، چې څلور کاله وړاندې په دغه نظر پوښتنه کې دغه شمېر ۸۱٪ وو. د انجيل لويو پلويانو له سترې محکمې سره د ټرمپ تازه تصويب د

ځان لپاره یو لوی خطر بللو. د دوی تر منځ دغه اختلاف نوی نه دی، بلکې له ۱۹۸۰م، راپدېخوا د سیاسیونو له خوا ویل کېږي، چې دموکراتان او جمهوري غوښتونکي به په واشنګټن کې د ډېر وخت لپاره، یو له بل سره یو ځای کار ونه شي کړای. دا ځکه چې له ناقصې ایډیالوژۍ سره خو سیاست هم له ماتې سره مخ کېږي.

د ټرمپ د ولسمشرۍ په دوره کې کووید-۱۹ د دوی تر منځ درز نور هم پراخه کړ، لکه څنګه چې اقتصادي نابرابري د امریکایي ټولنې هرې برخې ته ورسېدله. اقتصادي نابرابري یوازې په لیبرالي ایالتونو لکه کالیفورنیا او داسې نورو باندې په زور وروتپل شوه او دغو کارونو په ختیځو سیمو کې پوښتنې راپورته کړې، چې ایا د دوی مالیات او له فدرالي دولت سره همکاري به په راتلونکي کې جمهوري لرونکو هېوادونو ته جرات ورکړي، چې د لیبرالي ارزښتونو پروړاندې د محافظه کارانو د برترۍ لپاره ادعا وکړي؟

له دغو ستونزو سره دوی ته د دې منل سخت و، چې د بایډن په کامیابۍ کې به څنګه د امریکایانو ژوند ښه کړي. بایډن به هم د پخوا په څېر د لیبرال د پرمختګ لپاره هم په کور د ننه او بېرون کې کار وکړي او دا په دې معنا ده، چې دوی به د لیبرال او محافظه کارانو تر منځ ترهګریز جنجالونه راپورته کړي. کوم یو به وکولای شي چې د امریکا سیاست او ټولنه د دایم لپاره له منځه یوسي. په دې کې شک نشته، چې دا به د نړۍ په کچه د امریکا قوت له منځه یوسي او فرصت به برابر شي، چې کوم بل لوی قدرت د امریکا له دغې داخلي ماتې په خپله ګټه کار واخلي.

که دغه حالت دوام پیدا کړي، نو له امریکا څخه به د اسلامي خاورو ملاتړ کم شي او د هغوی لپاره چې د اسلامي خلافت لپاره کار کوي زمینه به ورته برابره شي، څو د اسلامي دولت د بیا تاسیس لپاره خپلو کارونو ته دوه برابره زور ورکړي. امریکایان تر اوسه د بایډن له کامیابۍ پرته هم ناکام دي او نړۍ د یوه اسلامي دولت ځلانده لمر ته سترګې په لاره ده.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: عبدالمجید بهاتي**

**۱۴۴۲هـ.ق د ربیع الاول ۲۵مه**

**۲۰۲۰م، د نوامبر ۱۱مه**